آصف بهاند ۲۰۲/۱۰/۰۷

# سر لـه سبا نـه یـو گلرنـگ لـتـوم



رنـگـینـو شـگـو کـې دې رنـگ لـټـوم
پـه هـرزه بـوټـو کـې لـونـگ لـټـوم

دا چـې زه غلـی کـرونـده کـې گرځم
بل بـوټـی نـه غـواړمـه، بنـگ لـټـوم

سولې پسې شل جوړې بوټان زاړه شول
اوس یم نـا چاره بیا بـه جنـگ لـټـوم

د جفا خار مې زړه سورى نه شو کړاى
پـه خـار چې نـه شـولـه خدنـگ لـټـوم

زُهـد و تـقـوا کې څه ترلاسه نـه شول
سر لـه سبا نـه یـو گلرنـگ لـټـوم

۲۰۲۰/۰۸/۰۳
هیدرسلیف
ډنمارک